بېشكه چې عدل كوونكي به د الله - جل جلاله - په وړاندې د رڼا په منبرونو د رحمن ذات ښي طرف ته وي؛ او د هغه (ذات) دواړه (بلا كيفه) لاسونه ښي دي

له عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دى وايي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «بېشكه چې عدل كوونكي به د الله - جل جلاله - په وړاندې د رڼا په منبرونو د رحمن ذات ښي طرف ته وي؛ او د هغه (ذات) دواړه (بلا كيفه) لاسونه ښي دي، هغه څوک چې په خپل قضاوت، خپلو كورنيو او هغه څه كې عدل كوي چې سرپرستي يې ور ترغاړې ده».

[صحيح دى] [مسلم روايت كړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر وركوي چې هغه كسان چې د دوى تر امر او قضاوت لاندې د خلكو او د دوى د كورنيو تر منځه په انصاف او رښتينولۍ سره قضاوت كوي نو هغوى به د درناوي په موخه په داسې لوړو او دنګو څوكيو ناست وي چې هغه به له نور څخه پيدا شوي وي. او دا منبرونه (څوكۍ) به د رحمان ذات ښي اړخ ته وي، او د هغه پاک ذات دواړه (بلا كيفه) لاسونه ښي دي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4935

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee